مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی

۲۰۲۳ / ۰۱ / ۲۲

# تنوع او ښکلا

بڼ ته وګورئ، څونه چې پکې ګلان ډول ډول او رنګارنګ وي؛ هومره بڼ ښکلی او زړه راښکونکی ښکاري. په شپه کې اسمان هم د ډېرو او ګڼو ستورو په ځلا، روڼ او ښایسته برېښي.
همداسې ټولنه کې بېلابېل افکار، عقیدې او نظریې ټولنې ته غنا او ښکلا بخښي.
که بڼ کې رنګارنګ ګلان نه وي او اسمان کې د ډېرو ستورو ځلا نه وي؛ موږ بیا دلته د ښکلا او ځلا په نوم څه نه لرو!
که د عقیدو، افکارو او نظریو تنوع نه وي؛ ټولنه یو نواخته، ولاړه او بې ځلا ښکاري.
په یوې عقیدې او یوې نظریې لرلو سره، ټولنه له غوړېدا او پرمختګ شاته پاتېږي او په پای کې د طبیعت د نورو برخو پشان په جامد وجود بدلیږي.
تنوع ده چې پکې طبیعت او ټولنه خپل وجود ځلوي او پایښت مومي!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ